# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**4عقرب _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د مرکزي اسيا له پاره د اروپايي اتحاديي د پراختيايي مرستو مشرې د مهاجرينو چارو له سرپرست سره وليدل --------1
آزمون تحریری یک بست اعلان شده وزارت اخذ شد--------------------------------------------------------------2
د پاکستان او ایران څخه له ۷ زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول---------------------------------------2
49خانواده درولایت خوست کمک نقدی دریافت نمودند ------------------------------------------------------------3
بغلان کې له سلو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې-----------------------------------------------------------------4
یک مرکز بهداشتی در کمپ مختار ولایت هلمند به بهره برداری سپرده شد ------------------------------------------5
د هېواد په ولایتونو کې سلګونه کورنۍ د نغدي مرستو څخه برخمني شوې -------------------------------------------6
د ایران څخه له درې زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ---------------------------------------------8
بیش از 5 هزار نفر مهاجر افغان از پاکستان به وطن برگشت نمودند -------------------------------------------10
برېتانیا: راتلونکو میاشتو کې به کډوالو ته ځانګړي شوي پنځوس هوټلونه وتړل شي ---------------------------10
د کورنیو چارو وزیره: رد شوي پناه غوښتونکي به ژر اخراج شي-----------------------------------------------11
زنان مهاجر پس از مادر شدن چانس کمتری در بازار کار دارند----------------- Error! Bookmark not defined.

# متن کامل اخبار

## د مرکزي اسیا له پاره د اروپایي اتحادیې د پراختیایي مرستو مشرې د مهاجرینو چارو له سرپرست سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



چهار شنبه، ۱۰ ربیع الثاني ۱۴۴۵/ ۳ لړم ۱۴۰۲
د مرکزي اسیا له پاره د اروپایي اتحادیې د پراختیایي مرستو مشرې آغلې سارا او د اروپایي اتحادیې د سفیرې معاون ښاغلي لوډویک او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې ولیدل

په دغه ناسته کې د مهاجرینو په ستونزو، په هرات کې د وروستیو زلزلو له امله د بې ځایه شوو او ورسره د بشري مرستو په ځرنګوالي بحث او خبرې وشوې

آغلې سارا وویل: اروپایي اتحادیې د هرات د زلزله ځپلو له پاره څلورنیم میلیونه یورو مرسته اعلان کړې او د راستنېدونکو له پاره یې د مهاجرت له نړۍوال سازمان سره د ۱۵ میلیونه یورو تفاهمنامه لاسلیک کړې ده، دا ټول د دې ښکارندویي کوي، چې مونږ د مهاجرینو د راتګ له پاره اماده یو او مونږ افغانان هیڅکله یوازې نه پرېږدو



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د مهاجرینو چارو وزیر یاد پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ د دوی د مرستو مننه وکړه او ویې ویل: د افغانستان سره مرستې ډېرې اعلانیږي، خو متأسفانه مثمره پایله یې نه ترسترګو کیږي، زیاتې مرستې د مؤسساتو په اداري لګښتونو او په بې ضرور ته پروژو مصرفیږي، هغه زیاته کړه، مرستې دې مهاجرینو ته په دایمي سرپناه، کلینیکونو، مکتبونو او نورو بنسټیزو پروژو مصرف شي تر څو د خلکو په ژوند کې مثبت بدلون راشي

نوموړي وویل: مونږ په ۲۸ ولایتونو کې د مهاجرینو له پاره ښارګوټي لرو، چې په هغو کې د مهاجرینو د بیا مېشتولو له پاره لومړنیو اسانتیاوو چمتو کولو ته اړتیا ده او مرستندویه هېوادونه او بنسټونه دې په دې برخه کې مرستې وکړي.

## آزمون تحریری یک بست اعلان شده وزارت اخذ شد

ویب سایت وزارت



آزمون تحریری یک بست چهار مدیر عمومی ثبت و معلومات ریاست امور مهاجرین ولایت بدخشان از طرف ریاست منابع بشری وزارت اخذ شد.

تعداد اشتراک کنندگان دراین آزمون 12 تن بود و قرار است بعد از نتیجه نهایی یک تن به ریاست امور مهاجرین ولایت یاد شده معرفی شود.

## د پاکستان او ایران څخه له ۷ زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**د ننګرهار او هرات ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو د ایران او پاکستان څخه د لېږ په ۲مه د ۷ زره او ۴۳۷ تنه افغان مهاجرینو د راستنېدو خبر ورکړ.**

**د ننګرهار ولایت د تورخم د مهاجرینو چارو آمریت د معلوماتو پر بنسټ ۷۲۵ کورنۍ، چې څلور زره او ۹۳ کېږي په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستنې شوې دي.**

**سرچینې زیاتوي، چې یاد کسان د مهاجرینو چارو اداره کې د نوملیکنې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو دکډوالو ادارې ته ور وپېژندل شول.**

**د یو بل خبر له مخې ۳ زره او ۳۴۴ تنه افغان مهاجر د هرات ولایت د اسلام قلعې له لارې په خپله خوښه او جبري توګه د لېږ په ۲مه هېواد ته راستانه شوي دي.**

**د هرات ولایت د اسلام قلعې د مهاجرینو چارو د آمر په خبره د یادو کسانو له ډلې چې پکې کورنۍ او مجردین شامل وو۳۶۹ تنه یې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور پېژندل شوي، چې ور سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره شوې دي.**

## 49خانواده درولایت خوست کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**ریاست امور مهاجرین ولایت خوست از توزیع کمک نقدی برای 49 خانواده بیجاشده به تاریخ 2 عقرب خبرداد.**

**هریک از خانواده های مذکور که توسط اداره مهاجرین آنولایت قبلاً در ولسوالی های صبری و سپیری مستحق شناخته شده بودند، مبلغ یک صدو 55 هزار و 925 افغانی مساعدت موسسه برک را غرض رونق کار و پیشه دریافت کردند.**

## بغلان کې له سلو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**د بغلان ولایت مهاجرینو چارو ریاست له لارې په دغه ولایت کې ۱۳۵ کورنیو سره د کور جوړولو په موخه د لړم په ۲مه مرسته وشوه.**
**دغه کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري سروې شوې وې او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته په لومړي قسط کې ورسره مرستې ترسره شوې وې په دویم قسط کې ور ته په بېلا بېلو کټګوریو کې۲۲ زره او ۶۰۰، ۲۷ زره او ۵۰۰ او ۷۸ زره او ۱۰۰ افغانۍ مرسته تر سره شوه.**

## یک مرکز بهداشتی در کمپ مختار ولایت هلمند به بهره برداری سپرده شد

ویب سایت وزارت



**مرکز بهداشتی کمپ مختار واقع لشکرگاه، مرکز ولایت هلمند، طی مراسمی با حضور مقامات محلی و موسسات همکار به تاریخ 2 عقرب افتتاح شد.**

به گفته داکتر سید احمد سعید رئیس صحت عامه هلمند، مرکز مذکور جهت عرضه خدمات صحی برای باشنده های کمپ مختار به هزینه دو صد 78 هزار و 969 دالر امریکایی کمک کمیشنری سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، در هماهنگی با ریاست امور مهاجرین ایجاد وبا وسایل مورد نیاز مجهز و ظرفیت عرضه خدمات 24 ساعته را برای 65 هزار خانواده دارد.

مولوی ثاقب نماینده مقام ولایت هلمند و مولوي الله داد انقیادي رئیس امور مهاجرین آنولایت در مراسم افتتاح مرکز یاد شده در رابطه به موضوع صحبت نمودند واز همکاری نهاد های همکار قدر دانی کردند.

نماینده های مردم محل از افتتاح مرکز بهداشتی خرسندی نموده وگفتند که قبل از افتتاح این مرکز از ناحیه دست رسی به خدمان صحی به مشکل مواجه بودند.

## د هیواد په ولایتونو کي سلگونه کورنی د نغدي مرستو څخه برخمني شوي

د وزارت ویب سایت




**Webs**

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په هرات، سمنګان، او پروان ولایتونو کې د مهاجرینو چارو وزارت د دویمي واحدونو له لارې له ۹۱۵ کورنیو سره د لېږم په لومړۍ نېټه مرستې شوې.

د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو د معلوماتو پر بنسټ د یادو کورنیو له ډلې په هرات ولایت کې ۴۷ زلزله ځپلو کورنیو سره د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې په مالي مرسته ۱۲ زره او ۴۰۰ افغانۍ، په پروان کې ۲۰ کورنیو هرې کورنۍ ته د مرستو د همغږۍ مؤسسې په مالي مرسته او په سمنګان کې د اکشن اېډ مؤسسې په مالي مرسته ۴۱۸ کورنیو هرې کورنۍ ته ۱۲ زره او ۸۵۰ افغانۍ د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو تر څارنې لاندې وېشل شوې دي.

## د ایران څخه له درې زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

خبرنامه



د ایران څخه درې  زره او ۳۱۰ تنه افغان مهاجر د لېږ په لومړۍ نېټه  په خپله خوښه او جبري توګه  هېواد ته راستانه شوي.

د اسلام قلعې د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنۍ او مجردان  شامل وو چې له ډلې یې ۳۴۴ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان  ته ور وپېژندل شول، چې ور سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې تر سره شوې.

## بیش از 5 هزار نفر مهاجر افغان از پاکستان به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت

**5** هزارو **196** نفر مهاجر افغان، به تاریخ اول عقرب از طریق طورخم ولایت ننگر هار و سپین بولدک قندهار طور جبری به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت های سرحدی ننگر هار و قندهار، **676** خانواده که شامل چهار هزار و **6** تن بودند، از طریق طورخم و **209** خانواده عودت کننده  دیگر که شامل یک هزار و **190** تن بودند، از طریق سپین بولدک عودت نموده اند.

منابع افزودند که برگشت کننده گان  پس ازثبت در ادارات امور مهاجرین ولایات یاد شده  جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## برېتانیا: راتلونکو میاشتو کې به کډوالو ته ځانګړي شوي پنځوس هوټلونه وتړل شي

مهاجرنیوز

د برېتانیا حکومت د سه شنبې په ورځ اعلان وکړ چې په راتلونکو څو میاشتو کې به کډوالو ته ځانګړي شوي پنځوس هوټلونه وتړل شي. لندن وایي چې په روان کال کې برېتانیا ته د انګلیس کانال له لارې د رسېدلو کډوالو په شمېر کې کموالی راغلی دی .

برېتانیا د سه شنبې په ورځ د اکتوبر په ۲۴مه اعلان وکړ په پام کې لري چې په هوټلونو کې د کډوالو شمېر را کم کړي. د برېتانیا حکومت وایي په روان کال کې د انګلیس کانال له لارې په کوچنیو کښتیو کې دغه هېواد ته د رسېدلو کډوالو شمېر کې کموالی راغلی دی.

د برېتانیا د کډوالو چارو وزیر رابرټ جنرېک د پارلمان استازو ته وویل، په راتلونکو څو میاشتو کې به نږدې ۵۰ هوټلونه چې اوس د استوګنځیو په توګه کارول کېږي وتړل شي او نور به د کډوالو د استوګنځیو په توګه و نه کارول شي.

بیا ولولئ :<u>د برېتانیا ستړی محکمې په هوټلو کې د بې سرپرسته کډوالو ماشومانو ساتل غیرقانوني بللي</u>

د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې ۲۶۵۰۱ مهاجر د انګلیس کانال له لارې په وړو کښتیو کې برېتانیا ته اوښتي دي. د کډوالی وزیر په خبره، دغه شمېرې د تېر کال د همدې مودې په پرتله کموالی ښیي.

په ۲۰۲۲ کې ۴۵ زرو کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته رسولي وو.

د برېټانیا لومړی وزیر ریشي سونک له ناقانونه کډوالۍ سره مبارزه خپل مهم لومړیتوب بولي. نوموړي څو میاشتې مخکې ویلي وو چې د قاچاقچیانو پر وړاندې خپلې مبارزې ته ادامه ورکوي او د انګلیس کانال له لارې د «ناقانونه» سفرونو د مخنیوي لپاره خپلې ټولې هڅې کوي.

بیا ولولئ :د بشري حقونو د څار سازمان: برېټانیا کې کډوالي کورنۍ «غیر انساني» شرایطو کې ژوند کوي

په ورځ کې ۸ میلیونه پونده لګښت

رابرټ جنرېک دا هم وویل چې دغه هوټلونه د ۲۰۲۴ تر جنورۍ پورې خالي کېږي. د ده په وینا، هوټلونو کې د پناه غوښتونکو ساتل د برېټانیا حکومت لپاره هره ورځ ۸ میلیونه پونډه لګښت لري.

هغه همداراز د کډوالۍ په تړاو د دولت نورو اقداماتو ته هم اشاره وکړه، لکه په ګډو کوټو کې د کډوالو د شمېر لوړول او کښتیو یا په پخوانیو پوځي اډو کې مهاجرو ته ځای ورکول.

بیا ولولئ :برېټانیا: کډوال یو ځل بیا بیبي ستاکهولم کښتۍ ته واستول شول

د سختو امنیتي تدابیرو سربېره، هر کال ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېټانیا ته ورسوي. د فرانسې سمندري ځواکو د دوشنبې په ورځ د دغه هېواد په شمالي سواحلو کې تر ۱۵۰ زیات کډوال وژغورل چې غوښتل يې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېټانیا ته ورسوي.

چارواکو همداراز د اکتوبر په ۱۶مه د اپال په ساحلي اوبو کې ۱۵۰ تنه نور مهاجر ژغورلي وو. د برېټانیا د کورنیو چارو وزارت په وینا، په همدغه نېټه بیا په ۶ کښتیو کې سپاره ۸۵ تنه نور د برېټانیا سواحلو ته اوښتي وو.

د وروستیو شمېرو له مخې، د روان کال له پیل څخه تر دې مهاله تر ۲۶ زره ډېر کډوال د سمندر له لارې برېټانیا ته رسېدلي دي. له دې وړاندې د برېټانیا چارواکو ویلي وو چې له ۲۰۱۸ راهیسې تر ۱۰۰ زره زیات کډوال د سمندر له لارې برېټانیا ته اوښتي دي چې په ډله کې یې ۸۶۰۰ افغانان هم دي.

## د کورنیو چارو وزیره: رد شوي پناه غوښتونکي به ژر اخراج شي

دویچه وله

د جرمني د کورنیو چارو وزیرې اعلان کړی دی چې د رد شویو پناه غوښتونکو د اخراج په اړه به ډېر ژر پرېکړه وشي. هغې وویل هغه کسان چې په جرمني کې د پاتېدو حق نه لري باید له دغه هیواده ووځي.

د کورنیو چارو فدرالي وزیرې نانسي فیزر، د دوشنبې په ورځ د جرمني «راینیشه پست» ورځپاڼې ته وویل چې د رد شویو پناه غوښتونکو د اخراج په اړه د قوانینو طرحه به د چهارشنبې په ورځ د فدرالي کابینې له خوا تصویب شي.د جرمني د حکومت یوه ویاند ټینګار کړی دی چې د هغو پناه غوښتونکو د منلو لپاره چې د دوی د اصلي او اولو هیوادونو له خوا رد شوي، د دغو هیوادونو رضایت ته اړتیا ده او په دې برخه کې به جدي کار وشي.

فیزر ورځپاڼې ته ویلي: «هر هغه څوک چې په جرمني کې د پاتېدو حق نه لري باید زموږ هیواد پرېږدي.» هغې زیاته کړې ده دا "اړینه" ده چې د هغو کسانو ښه پاملرنه وکړي چې د جګړې او ترهګرۍ له امله په جرمني کې پناه غوښتونکي دي. د مېرمن فیزر په وینا یوازې له اوکراین څخه ۱.۱ میلیونه خلکو جرمني ته پناه راوړې ده.

د جرمني د کورنیو چارو فدرالي وزیرې تینګار کړی دی چې د تیر کال په پرتله سږکال خپلو هیوادونو ته د ستانه شویو کسانو په شمیر کې ۲۷ سلنه ډېرښت راغلی دی. هغې زیاته کړې: «په هرصورت، موږ باید داسې مقررات په پام کې ونیسو چې موږ ته دا وړتیا راکوي چې خپل قوانین په دوامداره او چټکه توګه پلي کړو».

فیزر یادونه کړې ده چې د رد شویو پناه غوښتونکو د بیرته ستنیدو په اړه د دوی وړاندیز شویو مقرراتو طرحه کې د "محدودو اقداماتو طرحه" شامله ده، په شمول د ګړندي اخراج او د مجرمینو او خطرناکو خلکو بیرته ستنیدل.

د قوانینو په دې طرحه کې چې فیزر د روان کال د اکتوبر پر ۱۱مه په خپله مسوده کې وړاندې کړه، پکې د محرمو پناه غوښتونکو د ستنېدو او د هغو کسانو د موندلو لپاره د استوګنې د لټون په برخه کې د چارواکو او پولیسو د واکونو پراخول شامل دي، چې باید وویستل شي او همدارنګه "د اخراج لپاره د توقیف" اعظمي موده باید له ۱۰ ورځو څخه ۲۸ ورځو ته لوړه شي.